# خپلوانو سره

# ښه سُلوک

پښتو


شیخ طریقت، امیرِ اهلسنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# خپلوانو سره ښه سُلُوک

**دُعائے عطار:** یا **الله** پاکه! څوک چې دا رِساله "**خپلوانو سره ښه سُلُوک**" اولولي یا ئې واوري هغه ته او د هغه ټول خاندان ته د حج او د مدینے مُنَوَّرے با اَدَبه حاضري او د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دِيدار کولو کولو کښې شهادت او په **جَنَّتُ الْفِردَوس** کښې بے حِسابه داخِله نصيب کړې. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د **الله** پاک د محبوب، دانائے غُيُوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عاليشان دے: بے شکه په ورځ د قيامت به په خلقو کښې ما ته زيات نزدې هغه وي څوک چې په ما د ټولو نه زيات دُرُود اوليږي- (ترمذی، ج۲ص۲۷ حدیث ۴۸۴)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کوم ځائے چې خپلوي پريښودونکے وي هلته رَحمت نه نازليږي

"طَبَرَاني" کښې د حضرت سَيِّدُنا اَعمَش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه منقول دي، حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه يو ځل د سحر په وخت کښې په مجلِس کښې تشريف فرما وو، هغوئ اُوفرمائيل: زه قاطِعِ رِحم (يعني د خپلوانو سره تعلُّق پريښودونکي) ته د **الله** پاک قسم ورکووم چې هغه د دې ځائے نه

www.dawateislami.net

پاڅي چې بیا مونږ د اللّٰه پاک نه د بخښنې دُعا اُوغواړو ځکه چې د قاطِعِ رِحم (یعني د خپلوانو سره تعلُّق پریښودونکي) د پاره د آسمان دروازې بندې وي. (یعني که هغه دلته موجود وي نو رَحمت به نه نازلیږي او زمونږه دُعا به نه قبلیږي)

(اَلْمُعجمُ الکَبِیر ج۹ ص۱۵۸ رقم ۸۷۹۳)

## د "حُسنِ سُلوك" د ۷ حُروفو په نِسبَت د صِلۂ رِحمئ ووه مَدَني ګلونه

د دَعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1312 صفحو کتاب "بهارِشرِیعت" جِلد 3 صفحه 559 او 560 نه د "حُسنِ سُلوك" د ووه حُروفو په نِسبَت ووه مَدَني ګلونه قبول کړئ:

### ﴿۱﴾ د کوم خپلوان سره کوم سلوك پکار دے؟

په حدیثونو کښې مُطلقاً (یعني د څه پابندئ نه بغیر) ذَوِالْقُرْبٰی (یعني خپلوان) فرمائیلے شوي دي خو دا خبره ضرور ده چې د خپلوانو مُختلِف درجات دي ځکه د صِلۂ رِحم (یعني خپلوانو سره د حُسنِ سُلوك) په درجاتو کښې هُم فرق وي. د مور او پلار مرتبه د ټولو نه زیاته ده د هغوئي نه پس د ذُو رِحم مَحرم، (یعني هغه کورني خپلوان چا سره چې د نَسَبي خپل کیدو په وجه د همیشه د پاره نِکاح حرامه وي) د هغوئي نه پس د نورو خپلوانو سره د هغوئي د مَرتبو په حِساب (یعني په خپلوئ کښې د نزدیکت د ترتیب مطابق) (رَدُّالمُحتار ج ۹ ص۶۷۸)

### ﴿۲﴾ د خپلوانو سره د سُلوك کولو صورتونه

د صِلۂ رِحم (یعني خپلوانو سره د سُلوك) هم مُختلف صورتونه وي، هغوئي ته هَدِیه او تُحفه ورکول او که هغوئي ته په څه خبره کښې ستا د اِمداد ضرورت وي نو په هغه کار کښې د هغوئي مدد کول،هغوئي ته سلام کول،د هغوئي

مُلاقات له تلَل، هغوئي سره ناسته ولاړه کول، هغوئي سره خبرې اَترې کول، د هغوئي سره د مَحَبّت او مهربانۍ سلوك كول. (دُرَر، ج۱ص۳۲۳)

## ﴿۳﴾ که پرديس کښې وي نو خط دِ ورلیږي

که دا کس په پرديس [يعني بل مُلک] کښې وي نو خپلوانو ته دِ خط لیږي، هغوئي سره دِ خط و کِتابَت جاري ساتي چې بے تعَلُّقي پيدا نه شي او که کيدے شي نو وطن ته دِ راشي او خپلوانو سره دِ تعَلُّقات تازه کړي، په داسې کولو به مَحَبّت زياتيږي. (رَدُّالمُحتار ج۹ص۶۷۸) (د فون او انټرنيټ په ذريعه هم د رابطے ترکيب فائِده مند دے)

## ﴿۴﴾ که په پرديس کښې وي او مور او پلار ئې اُوغواړي نو راتلل به ضروري وي

که په پرديس کښې وي او مور او پلار ته د ده د خِدمت حاجت وي نو را دِ شي او د هغوئي خِدمت دِ کوي، د پلار نه پس د نيکه [يعني د پلار پلار] او د مشر ورور مرتبه ده ځکه چې مشر ورور د پلار په ځائے وي، مشره خور او ترور [يعني د مور خور] د مور په ځائے وي، او عُلَمائے کرامو تره ته د پلار په شان وئيلے دے او حديث: عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ اَبِيْهِ (يعني د سړي تره د پلار په شان وي) نه هم دا نتيجه اُوځي. د دوئي نه علاوه نورو ته خط ليږل يا تُحفه ليږل کافي وي.

## ﴿۵﴾ د کوم يو خپل سره کله مُلاقات کول پکار دي؟

د خپلوانو سره دِ په وقفه وقفه ملاقات کوي يعني که يوه ورځ ملاقات ته ورشي نو بله ورځ دِ نه ورځي وَعَلٰی هٰذَا الْقِیَاس (يعني هم د دې نه دِ اندازه واخلي)

ځکه چې د دې سره مَحَبّت او اُلفت زياتيږي، بلکه اَقرِبا (يعني نزدې خپلوانو) سره دِ جُمعه په جُمعه ملاقات کوي يا په مياشت کښې يو ځل، او ټوله قبيله او خاندان دِ په اِتِّفاق اوسيږي، چې کله هغوئي په حق وي نو د نورو سره دِ مقابَله کوي او په حق خبره کښې دِ ټول په اِتِّفاق کار کوي. (دُرَر، ج۱ص۳۲۳)

## ﴿۶﴾ که خپلوان څه حاجت وړاندې کړي نو ردّ کول ګناه ده

چې يو نِزدې خپل څه حاجت وړاندې کړي نو د هغه حاجت دِ پوره کوي، د هغه حاجت ردّ کول قطعِ رِحم (يعني خپلوي ماتول) دي. (اَيضاً) (ياد ساتئ! صِلهٔ رِحمي کول واجِب دي او قطعِ رِحمي کول حرام او جَهَنّم ته بوتلونکے کار دے)

## ﴿۷﴾ صِلهٔ رِحمي دا ده چې بل تَعَلُّق پريږدي او ته ئې جوړوے

صِلهٔ رِحمي (يعني خپلوانو سره ښه سُلوك) صِرف دا نه دے چې که هغه ښه سلوك کوي نو ته هم ښه سلوك کوې، داسې کول خو په حقيقت کښې مُکافاة يعني د بدل کار دے يعني چې هغه ستا کره څه څيز راوليږو نو تا د هغه کره ور وليږو، هغه تاسو کره راغے ته د هغه کره وَرَغلې. په حقيقت کښې **صِلهٔ رِحمي** (يعني خپلوانو سره ښه سُلوك) دا دے چې هغه تَعَلُّق پريږدي او ته ئې جوړوے، هغه ستا نه جُدا کيدل غواړي، لاپروائي کوي او ته هغه سره د خپلوئ د حقونو خيال او لِحاظ ساتې. (رَدُّالمُحتار ج۹ ص۶۷۸)

## د حُسنِ ظَن [يعني ښه ګمان] ساتلو طريقه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ذِکر کړے شوي ووه واړه **مَدَني ګلونه** د ډيرې توجُّه وړ دي، بِالخصوص ووم **مَدَني ګل** چې په هغې کښې د "بدل" ذِکر دے د دې په باره کښې عرض دے چې نن صبا عام طور هم داسې "د بدل کار" کيږي. که يو خپل هغه ته د واده دعوت ورکوي نو دا هم هغه ته دعوت

ورکوي، که هغه دعوت ورنکړي نو دا ئې هم نه ورکوي. که يو خپل ده ته د ډيرو کسانو دعوت ورکړو او دې بل بيا د کمو کسانو دعوت ورکړو نو په دې باندې هغه ورومبے ډير زيات خفګان ښکاره کوي او اعتراضونه او غيبتونه کوي. هم دغسې که يو خپل د ده په غم ښادئ کښې شريك نه شي نو دے هم د هغه په غم ښادئ کښې نه شريك کيږي او دغسې د دواړو په مينځ کښې جُدائي نوره هم زياته شي. حالانکه که څوك زمونږه په غم ښادئ کښې نه وي شريك شوے نو د هغه په باره کښې د نيك ګُمان ساتلو ډيرې لارې وتلے شي. مَثلاً هغه نه راتلونکے به بيمار شوے وي، د هغه نه به هير شوي وي، څه ضروري کار به ئې پيښ شوے وي، يا څه سخته مجبوري به ئې وي چې د هغې ښکاره کول به هغه ته ګران وي وغيره. که هغه د خپلې غير حاضرئ سبب ښکاره کړي يا نه، مونږ ته د ثواب او د جنّت لاره هوارَوَلو د پاره نيك ګُمان ساتل پکار دي. چنانچه **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: **حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ** يعني ښه ګُمان ښه عِبادت دے. (ابو داؤد ج٤ ص٣٨٨ حديث٤٩٩٣)

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي **احمد يار خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك مُختلف مطلبونه ليکي: يعني د مسلمانانو په باره کښې ښه ګمان کول، د هغوئي په باره کښې **بدګماني** نه کول دا هم په ښو عبادتونو کښې يو **عِبادت** دے. (مِراٰةُ المَناجِيح ج٦ ص٦٢١)

## د جَنّت مَحَل به هغه ته ورکول شي څوك چې....

فرض کړئ چې زمونږه يو خپل د سُستئ په سبَب يا په څه بَلَه وجه قصداً زمونږ کره رانغلو يا ئې مونږه خپل دعوت ته اُونه بَلَلُو بلکه که هغه زمونږه سره ښکاره بدسُلوکي هم اوکړه بيا هم مونږ ته حوصله غټه ساتل پکار دي او

تَعَلُّقات برقرار ساتَل پکار دي، د **حضرت** سَيِّدُنا اُبَيْ بِن کَعب رضی اللہ تعالٰی عنہ نه رِوايت دے چې د مدينے د سردار صلّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمانِ دے: د چا چې دا خوښه وي چې د هغه د پاره (په جَنّت کښې) مَحَل جوړ کړے شي او د دَرَجات ئې اوچت کړے شي، هغه ته پکار دي چې څوك پرې ظلم اوکړي، دا هغه مُعاف کړي او څوك چې ئې محروم کړي [يعني څه څيز يا دعوت وغيره ورنکړي]، دے ئې هغه ته ورکړي او څوك چې ورسره تعَلُّق پريږدي، دے د هغه سره تعَلُّق جوړ کړي.

(اَلْمُستَدرَك لِلحاكِم ج ۳ ص ۱۲ حديث ۳۲۱۵)

## پته دُښمني ساتونکو خپلوانو ته صدقه ورکول افضل دي

بهرحال که څوك زمونږه سره ښه سُلوك کوي او که نه مونږ ته ښه سلوك کول جاري ساتل پکار دي. د "مُسنَدِ اِمام اَحمد" حدِيثِ پاك کښې دے: اِنَّ اَفْضَلَ الصَّدَقَةِ اَلصَّدَقَةُ عَلٰى ذِى الرَّحِمِ الْكَاشِحِ بيشکه د ټولو نه افضله صَدَقه هغه ده کومه چې پته دُښمني ساتونکي خپلوان باندې اوکړے شي. (مُسنَدِ اِمام اَحمد ج ۹ ص ۱۳۸ حديث ۲۳۵۸۹)

## د خپلوان نه چې کله سخت غم ورپيښ شو

**اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرت سَيِّدُنا ابُوبکر **صِدِّيق** رضی اللہ تعالٰی عنہ ته خپل د ترور ځوئي غريب او بے وسه، مهاجِر بَدري صحابي حضرتِ سَيِّدُنا مِسطَح رضی اللہ تعالٰی عنہ نه سخت خفګان اُورسيدو او دوئي رضی اللہ تعالٰی عنہ به [د دې نه مخکښې] د هغوئي [يعني د حضرتِ سَيِّدُنا مِسطَح رضی اللہ تعالٰی عنہ] خرچ برداشت کولو هغه داسې چې هغوئي د سَيِّدُنا ابُوبکر صِدِّيق رضی اللہ تعالٰی عنہ په ګرانه لُور يعني **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رضی اللہ تعالٰی عنہا باندې د تُهمت لګوونکو سره مُوَافَقَت [يعني ملګرتيا] کړي وه. (هغه اوکړېده قِصّه ده ، هغې ته "واقِعهٔ اِفك" وائي د هغې ذِکر [کتاب "**د نيکئ دعوت**"] په صفحه 176 کښې دے) په دې وجه هغوئي رضی

اللہ تعالٰی عنہ د خرچ نه ورکولو قسم اُوخوړلو. په دې باندې د سيپاره ۱۸ سُورَةُالنُّور آيت ۲۲ نازِل شو. هغه آيتِ مُبارکه دا دے:

وَ لَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَ السَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْۤا اُولِي الْقُرْبٰى وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ الْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۪ۖ وَ لْيَعْفُوْا وَ لْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او قسم دِ نه خوري هغوئي، چې په تاسو کښې فَضِيلت لرونکي او وَس لرونکي دي خپلوانو او مِسکِينانو او د الله په لار کښې هِجرت کوونکو ته د ورکړې نه، او پکار ده چې مُعاف ئې کړي او له خبرې تير شي آيا تاسو دا نه خوښوئ چې الله مو اُوبخښي او الله بخښونکے مهربانه دے.

چې کله زمونږه خوږ نبی صَلَّى اللّٰه تعالٰى عليهِ واٰلهٖ وسلّم دا آيت اُولوستلو نو حضرت سَيِّدُنا ابُوبکر صِدِّيق رضی اللہ تعالٰی عنہ اُووئيل: بيشکه زه غوارم چې الله پاک زما بخښنه اوکړي او ما به چې د مِسطَح (رضی اللہ تعالٰی عنہ) سره کوم سُلوك کولو هغه به کله هم نه بندووم چنانچه هغوئي (رضی اللہ تعالٰی عنہ) هغه (مالي اِمداد) جاري کړو. د دې آيت نه معلومه شوه چې څوك د څه خبرې قسم اُوخوري بيا ورته معلومه شي چې د هغې کول غوره دي نو پکار ده چې هغه کار اوکړي او د قسم کَفَّاره ادا کړي، په صحيح حديث کښې هم داسې راغلي دي. نور فرمائي: د دې آيت نه د حضرت صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ تعالٰی عنہ فضِيلت ثابِت شو، د دې نه د هغوئي د شان او مرتبے اوچت والے معلوميږي چې الله پاک هغوئي (رضی اللہ تعالٰی عنہ) ته (په آيتِ قُرآني کښې) اُولُواالْفَضْل (يعني فضيلت والا) اُوفرمائيلو. (خَزائِنُ العِرفان ص ۵۶۳)

د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بیاں ہو کس زباں سے مرتبہ صدّیقِ اکبر کا
ہے یارِ غار محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا

مقامِ خوابِ راحت چین سے آرام کرنے کو
بنا پہلوئے محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا (ذوقِ نعت)

څوک شي بيانولے مرتبه د صِدّيق اكبر
يارِ غار دے مَحبوبِ خُدا د صِدِّيق اكبر

مقام جوړ شو د سکون او د آرام د خوب د پاره
په څنګ کښي د محبوبِ خُدا د صِدّيقِ اكبر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قَسَم او د هغې د کَفّارے بيان (حَنَفی)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اَميرُ الْمُؤمِنِين عاشِقِ اكبر، حضرتِ سَيِّدُنا صِدّيق اكبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په واقعه کښي د قَسَم او په تفسير کښي د قَسم د كَفَّارے ذكر دے، ولې چې نن صبا د ډيرو خلقو په خبره خبره د قسمونو خوړلو عادت عام دے، ډير ځل د دروغو قسم هم اُوخوري، نه د توبه كولو نه خبر وي او نه د كَفّارے په باره کښي څه معلومات لري، لِهٰذا اُمَّت سره د ښيګړې كولو د ثواب ګټلو د حِرص په سَبَب د نيکئ د دعوت په طور لږ په تفصيل سره د قَسَم او د هغې د كَفّارے په باره کښي مَدَني ګلونه وړاندې كووم، قبول ئې كړئ. دا د شروع نه واخله تر آخِره پورې اُولولئ يا د بعضې اسلامي ورونړو په شريکه د دې درس وركول به صرف فائِده مند نه بلكه اِنْ شَآءَالله تَعَالٰى ډير زيات فائِده مند ثابت شي.

## د قَسَم تعريف

**قَسَم** ته په عَرَبِي ژبه کښې "**يَمِين**" وائي او د دې مطلب دے: "ښے طرف" ولې چې عَرَبو به د **قَسَم** خوړلو يا د قَسَم ورکولو په وخت کښې يو بل له ښے لاس ورکولو ځکه د قَسَم نوم "**يَمِين**" پريوتو، يا داسې چې **يَمِين** دَ "**يُمْن**" نه جوړ شوے دے چې د دې معنٰی ده "بَرَکت او قُوّت". وَلې چې په قَسَم کښې د الله پاک بَرَکَتي نوم هُم يادوي او په هغې باندې په خپله خبره کښې طاقت [يعني وزن] پيدا کوي ځکه دې ته **يَمِين** وائي يعني دَ بَرَکت او قُوَّت والا خبرې. (مُلَخّص از مِراۃُ المَناجِیح، ج ٥ ص ١٩٤) په شرعي اِعتِبار سره قَسَم هغه **عَقْد** (يعني وعدے) ته وائي چې د هغې په ذريعه قسم کوونکے د يو کار کولو يا نه کولو پخه اِراده کوي. (دُرِّمُختار ج ٥ ص ٤٨٨) مَثَلاً چا داسې اُووئيل: "قَسَم په خُدائے! زه به صبا ستا تهول قَرض ادا کړم" نو دا قسم دے.

## د قَسَم درې قِسمونه

**قَسَم** درې قِسمه وي: (١)**لَغْو** (٢) غَمُوس (٣) مُنعَقِده.

(١) **لَغْو** دا دے چې د يو تير شوي يا موجوده کار په باره کښې په خپل خيال کښې (يعني په ناپوهئ کښې) هغه صحيح ګنړي او قَسَم اُوخوري او په حقيقت کښې هغه خبره د هغې خِلاف وي، مَثَلاً چا قسم اُوخوړو چې: "قَسَم په خُدائے! زَيد په کور کښې نشته" او د هغه په معلوماتو کښې هم داسې وه چې زيد په کور کښې نشته او هغه په خپل ګُمان کښې صحيح قَسَم خوړلے وو خو په حقيقت کښې زيد په کور کښې وو نو دا قَسَم "**لَغْو**" دے، دا مُعاف دے او د دې کَفّاره نشته (٢) **غَمُوس** دا دے چې د يو تير شوي يا موجوده اَمر (يعني کار) په باره کښې قصداً قَسَم اُوخوري مَثَلًا څوك قسم اُوخوري چې:

”قَسَم په خُدائے! زَید په کور کښې دے“ او هغه ته معلومه وي چې په حقيقت کښې زيد په کور کښې نشته نو داسې قَسَم ته ”**غَمُوس**“ وائي او داسې قَسَم خوړلو والا سخت ګنهګار شو، اِستِغفار او توبه پرې فرض ده خو کَفَّاره پرې نشته **(۳) مُنعَقِده** دا دے چې د آئِنده د پاره قسم اُوخوري مَثَلًا داسې اووائي: ”قَسَم په خُدائے! زه به صبا ستاسو کره ضرور درځم.“ خو صبا رانغلو نو قَسَم مات شو، هغه به کَفَّاره هم ادا کوي او په بعضو صورتونو کښې به ګنهګار هم وي. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۲)

**خُلاصه** دا شوه چې قَسَم کوونکے که د يوې تيرې شوې يا موجوده خبرې په باره کښې قَسَم اوکړي نو هغه به يا رِښتينے وي يا دروغژن، که رِښتينے وو نو هيڅ باك نشته او که دروغژن وي او هغه قَسَم هغه په خپل خيال کښې په رِښتيا خوړلے وو نو بيا هم باك نشته يعني ګناه هم نه ده او کَفّاره هم پرې نشته، خو که هغه ته معلومه وي چې زه د دروغو قسم خورم نو ګنهګار شو خو کَفّاره پرې نشته او که هغه د آئِنده **د پاره** د يو کار کولو يا نه کولو **قَسَم** اُوخوړو نو که هغه خپل قَسَم پوره کړو نو صحيح ده ګنې کَفّاره به هم ورکوي او په بعضو صورتونو کښې به د قَسَم ماتولو په وجه ګُنهګار هم وي. (د دې صورتونو تفصِيل مخکښې راروان دے)

## د دروغو قَسَم خوړل ګناهِ کَبِيره ده

د **رسُولِ** بے مِثال صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے:”د **الله** پاک سره شِرك کول، د مور او پلار نافرماني کول، کوم ساه لرونکے قتل کول او **د دروغو قَسَم** خوړل کَبِيره ګناهونه دي.“ (بُخاری ج٤ ص٢٩٥ حدیث٦٦٧٥)

## د ټولو نه مخکښې د دروغو قَسَم شیطان خوړلے وو

حضرتِ سَیِّدُنا آدم صَفِیُّ اللّٰه عَلَیۡہِ السَّلَام ته د سجده نه کولو په وجه شیطان مردود شوے وو لِهٰذا هغه هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام ته د نُقصان رَسَولو موقع لټوله. اللّٰه پاک حضراتِ سیِّدَینا آدم و حَوّا عَلَیۡہِمَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام و رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا ته فرمائیلي وو چې په جَنّت کښې اوسیږئ او چې کوم ځائے هم زړه غواړي خورئ څښئ البتّه د دې "وَنې" خوا ته مه ورځئ. شیطان په څه طریقه د حضراتِ سیِّدَینا آدم و حَوّا عَلَیۡہِمَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام و رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا خوا ته ور اُورسیدو او ورته ئې اُووئیل: زه تاسو ته "شَجَرِ خُلد" اُوښایم، حضرتِ سَیِّدُنا آدم صَفِیُّ اللّٰه عَلَیۡہِ السَّلَام منع کړو نو شیطان قَسَم اُوخوړو چې زه تاسو سره ښیګړه کوونکے یم. هغوئي سوچ اوکړو چې د اللّٰه پاك د دروغو قَسَم څوك خوړلے شي! چې دا سوچ ئې اوکړو نو حضرتِ سیِّدَتُنا حَوّا رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا د هغې نه لږ څه اُوخوړل بیا ئې حضرتِ سَیِّدُنا آدم صَفِیُّ اللّٰه عَلَیۡہِ السَّلَام ته ورکړل نو هغوئي هُم اُوخوړل. (مُلَخَّص از تفسیرِ عبدُ الرَّزّاق ج۲ ص۷۶)

څنګه چې په سیپاره ۸ سُوۡرَۃُ الۡاَعۡراف آیت ۲۰ او ۲۱ کښې اِرشاد شوې دے:

فَوَسۡوَسَ لَهُمَا الشَّیۡطٰنُ لِیُبۡدِیَ لَهُمَا مَا وٗرِیَ عَنۡهُمَا مِنۡ سَوۡاٰتِهِمَا وَ قَالَ مَا نَهٰکُمَا رَبُّکُمَا عَنۡ هٰذِهِ الشَّجَرَۃِ اِلَّاۤ اَنۡ تَکُوۡنَا مَلَکَیۡنِ اَوۡ تَکُوۡنَا مِنَ الۡخٰلِدِیۡنَ ﴿۲۰﴾ وَ قَاسَمَهُمَاۤ

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الاِیمان: بیا شیطان د هغوئي په زړونو کښې وسوسه واچوله چې په هغوئي ښکاره کړي د هغوئي د شرم ځیزونه کوم چې د هغوئي نه پټ وو او وئیل ئې: تاسو خپل ربّ د دې وَنې نه ځکه منع کړي ئې چې تاسو چرې دوه فرښتے جوړې نه شئ یا همیشه ژوندي

اِنِّیْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِیْنَ ﴿۲۱﴾ اوسیدونکي، او هغوئي ته ئې قَسَم اُوخوړو چې زه تاسو دواړو سره ښیګړه کوونکے یم.

صَدرُ الاَفَاضِل حضرت عَلّامه مولانا سَیِّد مُحَمَّد نعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رحمۃُ اللہِ تَعالٰی عَلَیه په تَفسِیر خَزائِنُ الْعِرفان کښې لیکي: معنٰی دا ده چې اِبلِیس مَلعُون [لعنَتِي] د دروغو قَسَم اُوخوړلو او حضرت (سَیِّدُنا) آدم (عَلَیهِ السَّلام) ته ئې دوکه ورکړه او د دروغو وړومبې قَسَم کوونکے اِبلِیس دے، حضرتِ آدم (عَلَیهِ السَّلام) ګُمان هم نه لرلو چې څوك د الله پاک قَسَم په دروغو خوړلې شي. ځکه هغوئي د هغه په خبره اِعتِبار وکړو.

## د چا د حق خوړلو د پاره د دروغو قَسَم کوونکے جَهَنَّمي دے

د نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلَیهِ واٰلِهٖ وسَلَّم فرمانِ عظیم دے: څوك چې په قَسَم خوړَلو د یو مسلمان حق اُووهي الله پاک د هغه د پاره جَهَنّم واجِب کړي او په هغه باندې جَنّت حرام کړي. عرض اوکړې شو: یارسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلَیهِ واٰلِهٖ وسَلَّم! اګر که هغه معمولي څیز وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: "اګر که د پِیلُو خاخ وي." (مُسلِم ص۸۲ حدیث۲۱۸،۱۳۷) پِیلُو یوه وَنه ده چې د هغې د څانګو او جرړو نه مِسواك جوړوي.

## د دروغو قسم کوونکي به په حشر کښې لاس او ښپې پریك کړے شوي وي

یو حَضرَمي (یعني د یَمَن د ښار "حَضْرَمَوت" اوسیدونکي) او یو کِندي (یعني د قبیلهٔ کِندَه یو کس) د مدینے د تاجدار صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلَیهِ واٰلِهٖ وسَلَّم په دربار کښې د یَمَن د یوې زمکې په باره کښې خپله مُقَدَّمه پیش کړه، حَضرَمي عرض اُوکړو: "یا

**رَسُولَ اللّٰه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما زمکه د ده پلار زما نه په زور اغستي وه، اوس هغه د ده په قبضه کښې ده.'' نو نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اُوکړو: ''آيا ستا سره څه ګواهي شته؟'' هغه عرض اُوکړو: ''نه، خو زه به ده له قَسَم ورکووم چې د **اللّٰه** پاک قَسَم دِ اُوخوري چې ده ته دا نه ده معلومه چې هغه زما زمکه ده کومه چې د ده پلار زما نه په زور قبضه کړي وه.'' **کِندي** د **قَسَم** خوړَلو د پاره تيّار شو نو **رَسُولِ اکرَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ''څوك چې (د دروغو) قَسَم اُوخوري او د چا مال لاندې کړي هغه به په بارګاهِ اِلٰهي کښې په داسې حالت کښې پيش کيږي چې د هغه ښپې او لاسونه به پريك کړے شوي وي.''چې دا ئې واوريدل نو **کِندي** اُووئيل: دا زمکه د هغه (يعني حَضرَمي) ده. (سُنَنِ ابو داوٗد ج۳ ص۲۹۸ حديث۳۲۴۴)

**مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يارخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: سُبْحٰنَ الله! دا دے اثر د هغه مبارکې ژبې چې په دوو خبرو کښې د هغه (کِندي) د زړه حال بدل شو او رِښتيا خبره ئې اُوکړه او په زمکه د خپلې دعوے نه دست برداره شو. (مِراٰةُ المَنَاجِيح ج۵ ص۴۰۳)

## د ووه زمَکو اميل

د **رِشوَتونو** په ذريعه په پرَدو ځائيونو باندې بِلډِنګونه جوړولو والا، د خلقو نه په اِجاره اغستي د کروندې زمکې لاندې کوونکو زميندارو، خانانو او خيانت کوونکو زميندارو ته سخت ويريدل او فوراً توبه وِيستل پکار دي او د چا حقونه ئې چې لاندې کړي دي هغه فوراً ادا کول پکار دي ځکه چې په ''**مُسلِم شريف**'' کښې د **سرکارِ نامدار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: ''کوم کس چې د چا يوه لويشت زمکه په ناحقه طور واخلي نو هغه ته به

د قیامت په ورځ د ووه زمَکو طَوق (یعني اَمیل) ور په غاړه کړے شي.“ (صحیح مُسلِم ص٨٦٩ حدیث ١٦١٠)

## عامه لار د شریعت د اِجازت نه بغیر مه ګیروئ

بعضې خلق عامه لار [د شریعت] د اِجازت نه بغیر ګیره کړي چې په هغې کښې ډیر صورتونه د خلقو د پاره د سخت تکلیف باعِث جوړیږي، مَثَلاً (۱) په غټ اختر کښې د قربانئ ښاروي د خرخولو یا په کرایه باندې د ساتلو د پاره یا د حلالولو د پاره بعضو ځائیونو کښې بعضې خلق بے د شرعي اِجازته پوره پوره کوڅې ګیري کړي (۲) په لار کښې د تکلیف ورکوونکي حده پورې کچره [ډیران، خزَلې] یا ملبه اچوي، د تعمیراتو د پاره غیر ضروري طور د شګو او سریا دلئ جوړې کړي او هم دغسې د تعمیراتو پوره کیدو نه پس په میاشتو میاشتو پاتې شوے سامان او ملبه پرته وي (۳) د غم ښادئ د دعوتونو او نیازونو [خیراتونو] په موقعو په کوڅو کښې دیګونه پخول شي او د هغې په وجه کله کله په زمکه کښې قُوتي [یعني کډے] جوړې شي او بیا په هغې کښې د کچرے او ګنده اوبو په ذریعه ماشي پیدا کیږي او بیماریٔ خوریږي (٤) عامې لارې اپوکني خو د ضرورت پوره کیدو باوجود ئې نه بیرته ډکوي او نه ئې هوارَوي (٥) د اوسیدو یا کاروبار د پاره په ناجائِزه طریقه ځائیونه داسې قبضه کړي چې [د هغې په وجه] د خلقو لار تنګه شي. د دې ټولو د پاره د غور مقام دے.د **دعوتِ اسلامي** دَ اِشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د 853 صفحو کتاب”جہنّم میں لے جانے والے اعمال (جلد اوّل)“ صفحه 816 کښې اِمام اِبنِ حَجَر مَکّي شافِعي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیه کبیره ګناه نمبر 15 کښې دا فِعل (یعني دا کار) ګناهِ کبیره قرار کړے دے، فرمائي: ”په عامه لار کښې غیر شرعي تَصَرُّف کول [یعني کار لرل]

چې د هغې په وجه خلقو ته سخت نُقصان رسي" د دې په سَبَب بیانوَلو کېښې لیکې: دا ځکه چې د داسې کولو په وجه خلقو ته تکلیف رسي او دا په ظلم د هغوئې حقونه لاندې کول دي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چا چې یوه لویشت زمکه د ظلم په طور واغستله، د قیامَت په ورځ به د ووه واړو زمَکو نه د هغه همره حِصّے طوق [یعني امیل] جوړ کړے شي او هغه ته به ور په غاړه کړے شي." (صحیح بُخاري ج۲ ص۳۷۷ حدیث۳۱۹۸)

## د دروغو قَسَم کورونه ورانوي

**د دروغو د قَسَم دَ نُقصاناتو** نقشه اعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه **اِمام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه داسې بیان کړې ده، فرمائي: **د دروغو قَسَم** کورونه ورانوي. (فتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۶ ص۶۰۲) په یو بل مقام کېښې لیکې: د دروغو قَسَم په تیره شوي خبره قَصداً (خوړونکي باندې اکر چې) کَفّاره نشته، خو د دې سزا دا ده چې **د جَهَنَّم په خوټکیدلو اوبو کېښې به غوپې ورکولے شي.**
(فتاوٰی رَضَوِیّه ج۱۳ ص۶۱۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو**! لږ سوچ اوکړئ چې الله پاک چا چې مونږه پیدا کړي یُو، پوره کائِنات ئې تَخلَیق [یعني جوړ] کړے دے، چې هغه ته هره هره خبره ښکاره ده، یو څیز د هغه نه پټ نه دے، تردې چې د زړونو په حال هم هغه ډیر ښه خبردار دے، هغه **رحمٰن** او **رَحِیم** هم دے او **قَهَّار** و **جَبَّار** هم دے، د هغه **رَبُّ الْاَنَام** په نوم اغستلو د دروغو قَسَم خوړل څومره د غټې نادانئ خبره ده او هغه هم د دُنیا د عارضي (ختمیدونکي) فائِدے یا د یو څو روپو د پاره!

## يهوديانو د شانِ مُصطفٰی پټولو د پاره د دروغو قَسَم خوړلے وو

د يهوديانو عالِمَانو او د هغوئي سردارانو **ابُو رافِع، کِنانه بِن اَبِي الْحُقَيق، کَعْبْ بِن اشرف او حُيَيّ بِنِ اَخطَب** د الله پاک هغه عهد [يعني وعده] پټه کړه کومه چې په رَسُولِ **مُحتَرَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د اِيمان راوړَلو مُتَعَلِّق په تَوريت شرِيف کښې اغستے شوې وه. هغه داسې چې هغوئي هغه [آيتونه] بدل کړل او د هغې په ځائے ئې په خپلو لاسو بل څه اُوليکل او **د دروغو قَسَم** ئې اُوخوړو چې دا د الله پاک له طرفه دي، دا هر څه هغوئي د خپلې ډلې د جاهِلانو نه د رِشوَتونو او مال و زر حاصِلولو د پاره کړي وو. د هغوئي په باره کښې دا آيتِ مُبارکه نازِل شو:

اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓىِٕكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۷﴾

(پ3 آل عمران ۷۷)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: خوك چې د الله د عهد او د خپلو قَسَمونو په بدله کښې د دُنيا ذليل قِيمَت اخلي په آخِرت کښې د هغوئي هيڅ حِصّه نشته او الله به نه د هغوئي سره خبرې کوي او نه به د هغوئي طرف ته نظر فرمائي د قِيامت په ورځ، او نه به هغوئي پاك کوي او د هغوئي د پاره دردناك عذاب دے. (تفسِيرِ خازن ج۱ ص۲٦٥)

## شِين سترګے مُنافِق

يو مُنافق چې نوم ئې **عَبدُالله** بِن نَبتَل ووهغه به د **رسُولِ اکرَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې حاضر اوسيدو او د دې ځائے خبره به ئې يهوديانو ته رَسَوَله، يوه ورځ حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل مبارك کور کښې تشرِيف فرما وو، حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: اوس به يو سړے راځي چې د هغه

زړه ډير زيات سخت دے او د شيطان په سترګو ګوري، په لږ ساعت کښې عَبدُ الله بِن نَبتَل راغے، د هغه سترګې شنې وے، حضور سَيِّدِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اُوفرمائيل: ته او ستا ملګري مونږ ته ولې کنزلې کوئ؟ هغه قَسَم اُوخوړو چې زه داسې نه کووم او خپل ملګري ئې راوستل، هغوئي هُم قَسَم اُوخوړو چې مونږه تاسو ته کنزلې نه دي کړي، په دې باندې دا آيت کريمه نازل شو:

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَ لَا مِنْهُمْ ۙ وَ يَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾

(پ ۲۸ مجادلة ۱۴)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آيا تاسو هغوئي اُونه ليدل څوک چې د داسې خلقو دوستان شو په چا چې د الله غَضَب دے، هغوئي نه ستاسو نه دي او نه د هغوئي نه، هغوئي د دروغو قَسَمونه خورى.

(خزائِنُ الْعِرفان)

## جَهَنَّم ته د بوتلو حُکم به اُوشي

**منقول** دي چې د قيامت په ورځ به يو کس د الله پاک په بارګاه کښې اُودرولے شي، الله پاک به د هغه جَهَنّم ته د بوتلو حُکم اُوفرمائي. هغه به عرض کوي: يا الله! زه په څه وجه جَهَنَّم ته ليږلے کيږم؟ ارشاد به اُوشي: لمونځونه د هغې د وخت تيرولو نه پس کولو او زما د نوم **د دروغو قَسَمونو** خوړلو په وجه. (مُكَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۱۸۹)

## د دروغو قَسَم خوړلو والا تاجِر د پاره درد ناك عذاب دے

**حضرت** سَيِّدُنا اَبوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دے چې د الله پاک مَحبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "درې کسان داسې دي چې هغوئي سره به الله پاک نه خبرې کوي او نه به په هغوئي د کرم نظر فرمائي او نه به هغوئي پاك کوي

بلکه د هغوئي د پاره دردناك عذاب دے.“ هغوئي رضی اللہ تعالی عنہ فرمائي چې د الله پاک حَبِيب صلَّی اللہ تعالی علیہ والہٖ وسلَّم دا خبره درې ځله ارشاد اُوفرمائيله نو ما عرض اُوكړو: هغوئي خو تباه او برباد شو، هغه خلق څوك دي؟ ارشاد ئې اُوفرمائيل: (۱) په تکَبُّر خپل لَنگ [پرتوګ وغيره د ګيټو/ پړکو نه ښکته] زوړندَولو والا او (۲) احسان زبَاتَلو [يعني يادولو] والا او (۳) د دروغو په قَسَمونو خوړلو خپل مال خرڅوونکے.

(صحيح مُسلِم ص٦٧ حديث١٧١(١٠٦))

## د دروغو په قسم بَرَكت ختم شي

د دې رِوايت نه دِ خصوصاً هغه تاجِران او دُکانداران عِبرَت واخلي څوك چې د دروغو په قَسَمونو خوړلو خپل مال خرڅوي، د څِيزونو عيبونه پټولو او په بيكاره او خراب مال باندې زياته ګټه حاصلولو د پاره بے شميره قَسَمونه خوري او په دې د هيڅ قِسمه شرم نه محسوسوي، د دوئي د پاره د شرم مقام دے ځکه چې د رَسُولِ اکرم صلَّی اللہ تعالی علیہ والہٖ وسلَّم فرمانِ دے: د دروغو په قَسَم سودا خرڅه شي او بَرَکت ختم شي. (کَنزُ العُمّال ج١٦، ص٢٩٧ حديث٤٦٣٧٦) يو بل ځائے کښې فرمائي: ”قَسَم سامان خرڅولو والا دے او بَرَکت ختمولو والا دے.“ (صحيح بُخاری ج٢ ص١٥ حديث٢٠٨٧)

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رحمۃ اللہ تعالی علیہ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: د بَرَکت ختميدو نه مُراد آئِنده د كاروبار بنديدل وي يا په روان كاروبار كښې نُقصان كيدل وي، يعني كه تا د دروغو په قَسَم په چا خراب مال خرڅ كړو نو هغه خو به يو ځل دوكه اُوخوري خو بيا به نه راځي او بل ته به هُم وائي چې مه ورځه، او كوم رقم چې تا د هغه نه حاصل كړو په هغې كښې به بَرَكت نه وي ځكه چې په حرام كښې بَرَكت نه وي. (مِراٰةُ المَناجِيح ج٤ ص٣٤٤)

## د خِنزِير په شان مړے

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اِدارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** د (۳۲ صفحو) په رِساله "**کفن چوروں کے اِنکشافات**" کښې دي: **يو** ځل د خليفه عبدُالمَلِك خوا ته يو کس ويريدلے حاضر شو او وئيل ئې: **بادشاه سَلامت!** زه ډير زيات ګُنهګار يم اودا معلومات غواړم چې آيا زما دپاره مُعافي شته او که نه؟ **خَليفه** اُووئيل: آيا ستا ګناه د زمکې او د آسمان نه هم غټه ده؟ هغه اُووئيل: آو غټه ده. **خَليفه** تپوس اُوکړو: آيا ستا ګناه د لَوح و قلم نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَليفه** بيا تپوس اوکړو: آيا ستا ګناه د عرش او کُرسئ نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَليفه** اُووئيل: وروره يقيناً ستا ګناه د **اللّٰه** تَعَالٰی د رَحمت نه غټه نه شي کيدے. دا ئې چې واوريدل نو [د **اللّٰه** تَعَالٰی د رحمت په اُمّيد] د هغه د سترګو نه اوښکې رواني شوې او په چغو چغو په ژړا شو. خليفه اُووئيل: وروره آخِر تا داسې کومه ګُناه کړې ده! هغه اُووئيل: **صاحِبه!** زه ډير سخت شرمِنده يم خو بيا ئې هم تاسو ته عرض کووم، د دې د پاره چې کيدے شي زما د توبے څه لار راوُځي. بيا هغه خپل **خوفناك داستان** اوروَل شروع کړل: وئيل ئې: بادشاه سلامت! زه **د کفنونو غل** يم، نن شپه ما د **پينځؤ قبرونو** نه عِبرت حاصِل کړو او توبه وِيستلو ته تيار شوم. بيا هغه د پينځؤ قبرونو عِبرتناك حالات بيان کړل، **د يو قبر حال** هغه داسې بيان کړو: د **کفن** غلا کولو د پاره چې کله ما **دويم قبر** اوکنستلو نو يو خوفناك منظر مې اُوليدو! څه وِينم چې **د مړي مخ د خِنزير په شان شوے دے او په زنځيرونو تړلے شوے دے.** غيبي آواز راغلو: ده به **د دروغو قَسَمونه** خوړل او **حرامه روزي** به ئې ګټله.

(ماخوذ اَز تَذکِرَةُ الواعِظِين ص٦١٢)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ


## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کیدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قَافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com